**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د اسلامي خاورو چارواکو د ټرامپ د دښمنانه اعلامیې پر وړاندې سرونه ټیټ کړي دي!

## ټرامپ د اسلامي خاورو د چارواکو حقیقت نړۍ ته داسې څرګند کړ، چې ته به وایې لوڅ دي!



**(ژباړه)**

ټرامپ د ٦-٢٠١٧/١٢/٧ نېټه بیت المقدس د یهودي دولت د پلازمېنې په توګه اعلان کړ. د سپینې ماڼۍ په یوه لیک کې چې د چهارشنبې په ورځ خپور شوی دی، راغلي دي چې د امریکا ولسمشر ټرامپ بیت المقدس د یهودي دولت د پلازمېنې په توګه اعلان کړی دی او د اسراییلو (یهودو) دولت ته یې ویلي دي چې له تل ابیب څخه بیت المقدس ته د امریکا د سفارت د لېږدولو لپاره چمتووالی ونیسي. ټرامپ په خپله یوه وینا کې داسې وویل: (پخوانیو ولسمشرانو هم د انتخاباتي مبارزو په ترڅ کې د دې ژمنه کوله چې د یهودي دولت پلازمېنه بیت المقدس ته ولېږدول شي، خو په لېږد یې بریالي نه شول. مګر زه به یې نن په خپله هلته ولېږدوم.

(سرچینه: alarabiya.net؛ ٢٠١٧/١٢/٦م) له اعلان وړاندې د اسلامي خاورو زیاتره چارواکي لکه؛ سلمان، عباس، عبدالله، سیسي د مراکش ولسمشر شپږم محمد او نور چې مخکې د بیت المقدس د موضوع په اړه ګواښول شوي وو، ټرامپ خبر کړي وو چې څو ساعته وروسته نوموړی د بیت المقدس په اړه خپله پرېکړه اعلانوي. د دې ټولو سره سره دغو چارواکو د خپلو خلکو سکوت داسې وساته چې له ډېرو غږ واته مګر له دوی هېڅ نه اورېدل کېدل، ته به وایې چې د مړو هدیره ده. خو نور سکوت بس دی او نور باید د سینما د لیدونکو غونډې چوپ نه و، ځکه دا د اسلامي امت لپاره لوی شرم دی.

رښتیا هم ظالم، احمق او د اسلام دښمن ټرامپ له یهودو سره خپله ژمنه پرځای کړله. په اصل کې کافران له یو بل څخه بېل نه دي، بلکې کافران د یوه مذهب په توګه په یوه کښتۍ کې سپاره دي او دا دې حیرانتیا خبره نه ده چې دوی د مسلمانانو پر وړاندې یوځای دي.

مګر د حیرانتیا خبره دا ده چې د اسلامي خارو چارواکي د کفارو د دغو ټولو رذالتونو سره سره بیا هم له دوی سره په دوستۍ کولو کې سیالي کوي. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَىٰ أَوْلِيَاءَ ۘ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ﴾

[مایده:۵۱]

*ترجمه: اې مومنانو! یهود او نصارا د خپل ولي په توګه مه ټاکئ، ځکه دوی یو د بل ولیان دي او که په تاسو کې چا له دوی سره دوستي وکړه، نو هغه کس له همدوی څخه دی. پرته له شکه الله ظالمانو ته هدایت نه کوي.*

**اې مسلمانانو!**

امریکا د یهودو دولت په ۱۹۴۸ کال کې په رسمیت وپېژانده او وروسته یې د دوی ملاتړ هم وکړ. مګر د اسلامي خاورو مشران چوپ پاتې شول او ناوړه لا دا چې له همدې کفارو سره یې دوستي وکړه او د دوی غلامي یې پیل کړه.

یهودیانو په دې بسنه ونه کړه، بلکې په ۱۹٦۷ کال کې یې د فلسطین پاتې خاوره او بیت المقدس هم اشغال کړل او امریکا یې هم ملاتړ کاوه. مګر د اسلامي خاورو چارواکي چوپ وو او د کفارو ژمن دوستان وو او ناوړه لا دا چې امریکا او ناولي یهودیان یې د خپلو ستونزو د حل کوونکو په توګه منلي وو او دې کار دوی هم رسوا او ذلیل کړل.

دغه لار ورکي چارواکي په دې دوکه وو، چې یهودیانو د امریکا د فشار په زور په فلسطین کې دولت جوړ کړ او که وسلې هم ونه لري، کولی شي چې د بیت المقدس په شرقي برخه کې پلازمېنه جوړه کړي. دوی په دې دوکې سره نور هم ذلیل شول او دوی بل چاته دوکه نه ورکوي، یوازې خپل نفسونه دوکه کوي. په اصل کې دوی د یوه سم لیډلوري د نشتوالي له امله ذلیل او بدبخته شوي دي.

په اوس وخت کې امریکا د ټرامپ په خوله دا اعلان وکړ او بیت المقدس چې د اسرأ او معراج سیمه، د مسلمانانو لومړۍ قبله او په ورته وخت کې د مسلمانانو درېیم مسجد چې هلته سفر کړلی شي له ختیځه تر لودیځه د یهودي دولت د پلازمېنې په توګه یې ومانه. مخکې له دې چې ټرامپ خپله پرېکړه اعلان کړي، د اسلامي خاورو د دوکه شوو چارواکو سره پرته له دې چې کوم امتیاز ورکړي په اړیکه کې و او دی پوهېده چې دوی ته د بیت المقدس ارزښت معلوم دی. نوموړي د خپلې پرېکړې له اعلان مخکې له دوی سره په اړیکه کې و او په خپله خبرو کې یې وویل چې نوموړی به خپل مرستیال د خبرو لپاره دغو چارواکو ته استوي. ټرامپ وویل چې د خپل مرستیال مایک پنس به په نېږدو ورځو کې منځنۍ ختیځ ته استوي. (alarabiya.net؛ ۲۰۱۷/۱۲/٦م). دا هم رښتیا ده چې نوموړي په خپلو خبرو کې وویل چې د یو چا توهینول او ملنډې وربانډې وهل اسانه دي، مګر دا خبره خورا دردوونکې ده چې هغه تدریجي مرګ دی او بس.

اې مسلمانانو: دا څنګه شونې ده چې د یهودو د ناولو منګولو څخه د فلسطین د ازادولو په اړه به دوه هوښیار انسانان اختلاف ولري؟ دا څنګه شونې ده چې دوه هوښیار کسان به د امریکا او د دوی د دوستانو چې د یهودو لخوا یې ملاتړ کېږي پر وړاندې اختلاف ولري. ایا فلسطین د اسلامي خاورو د پوځونو په منسجمولو سره نه شي ازادېدلی دی؟ همدغه شیطاني او باطلې ډلې ته باید د اسلامي خاورو د پوځونو په لاسونو جزا ورکړل شي او ذلیل شي او دغه مقدسه خاوره د دوی له ناوړه شتون څخه پاکه شي ځکه الله سبحانه و تعالی فرمایي:

﴿قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِينَ﴾

[توبه: ١٤]

***ترجمه:*** *د دوی پر وړاندې جګړه وکړئ، چې الله دوی ته ستاسو په لاسونو سزا ورکړي او دوی رسوا کړي او له تاسو سره الله په دوی باندې د غالبېدلو لپاره مرسته وکړي او د مومنانو سینو ته شفا ورکړي.*

ایا د فلسطین ژغورل د یهودي بنسټونو د ملاتړو دولتونو سره په ربښتینې جګړه کې نه دی؟ ایا دا د الله سبحانه و تعالی فرمان نه دی چې که چا اسلامي خاوره اشغال کړه او اوسېدونکې یې له خپلې خاورې وشړل، له اشغال شوې سیمې یې بهرته وباسو؟

﴿وَأَخْرِجُوهُمْ مِنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ﴾

[بقره: ١٩١]

***ترجمه:*** *او دوی داسې وباسئ، لکه څنګه یې چې تاسو ایستلي یاست.*

ایا دا الهي فرمان د هغو کسانو په اړه نه دی چې د یهودي دولت ملاتړ کوي او اسلامي خاورې یې اشغال کړې دي او اوسېدونکي یې شړلي دي.

﴿إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُم مِّن دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا عَلَىٰ إِخْرَاجِكُمْ أَن تَوَلَّوْهُمْ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُمْ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ﴾

[ممتحنه: ٩]

***ترجمه:*** *له شک پرته الله سبحانه و تعالی تاسو د کفارو له دوستۍ چې ستاسو پر وړاندې جګړه کوي او تاسو یې له خپلو سیمو شړلي یاست او یا یې ستاسو په شړلو کې مرسته کړې ده، منعه کړي یاست او که چا له دوی سره دوستي وکړه، نو هغوی ظالمان دي.*

ایا دا حقیقت هغه کسان درک کولی شي چې سالم زړونه، غوږونه او سترګې لري؟

**اې مسلمانانو او اې د اسلامي خاورو پوځونو!**

په ۱۹۴۸ کال کې د فلسطین د زیاتو سیمو اشغال او په اړه یې د اسلامي خاورو د چارواکو چوپتیا او د ازادولو لپاره یې د اسلامي خاورو د پوځونو نه منسجمول، یو لوی جنایت و. همدارنګه په ۱۹٦۷ کال کې د یهودو لخوا د پاتې فلسطین اشغال او په اړه یې بیا د اسلامي خاورو د چارواکو چوپتیا او د پوځونو نه منسجمول یو بل لوی او نه بښوونکی جنایت و او د یهودو د ملاتړو دولتونو پر وړاندې نه جګړه هم یو جنایت دی. له دغو هېوادونو سره دوستي او ژمنتیا د الله سبحانه و تعالی، رسول الله صلی الله علیه وسلم او مومنانو سره لوی خیانت دی.

ټرامپ د اسلامي خاورو د چارواکو حقیقت نړۍ ته داسې ښکاره کړی دی، چې ته به وایې لوڅ دي. دا چارواکي په اسلامي خاورو واک او اختیار نه لري. که د اسلامي خاورو پوځونه نه شي کولی چې د دغې سپېڅلې خاورې د ازادولو لپاره د یهودو او د دوی د ملاتړو دولتونو پر وړاندې جګړه وکړي، دا خو کولی شي چې د اسلامي خاورو د خاینو چارواکو ناولي مخونو په خاورو وموښي او کله هم دا اجازه ورنه کړي چې دوی خپلو شومو موخو ته ورسېږي. په ټولو مسلمانانو او اسلامي پوځونو باندې لازمه ده چې دا ډارن چارواکي د قدرت له ګدۍ راکوز کړي او د نبوت پرمنهج خلافت تاسیس کړي. په دې سره به کافر ښکېلاکي ځواکونه کله هم دا جرات ونه کړي چې په اسلامي خاورو برېدونه وکړي او سربېره پر دې مسلمانان به د دوی لپاره خطر وي او د یهودو هیولا به ذلیله او ناهیلې شي. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

﴿وَإِن يُقَاتِلُوكُمْ يُوَلُّوكُمُ الْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنصَرُونَ﴾

[آل‌عمران: ۱۱۱]

***ترجمه:*** *که دوی له تاسو سره جګړه وکړي، نو خامخا به تښتي او وروسته به یې هېڅوک هم مرسته ونه کړي.*

حزب التحریر ستاسو د ریښتینی لارښود په توګه، چې ریښتینولي او صداقت یې ټول امت ته ښکاره دی، تاسو ته خبر درکوي چې د چارواکو د خیانتونو او جنایتونو پر وړاندې باید چوپ پاتې نه شئ او دا خبروي مو چې د چارواکو مکر او دروغ مو دوکه نه کړي. په دې پوه شئ د فلسطین له لاسه ورکولو سره که چوپ شوئ، همداسې نورې خاورې به هم له لاسه ورکړئ.

د دغو خاینو او ذلیلو چارواکو د اطاعت لپاره هېڅ دلیل نشته، ځکه همدوی د یهودو له ناولو منګولو څخه د فلسطین د سپېڅلې خاورې د ازادولو لپاره خنډونو جوړوي. په دغه حساس پړاو کې له دوی څخه پیروي د دنیا د خوارۍ او اخرت کې د سخت عذاب لامل ګرځي. ستاسو د ځینو همکارانو خبرې چې له همدغو فاسدو چارواکو څخه پیروي کوي، تاسو ته هېڅ ګټه نه لري، ځکه همدغه دوکه کوونکې خبرې او بیانیې به ناوړه پایلې ولري. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

﴿وَقَالُوا رَبَّنَا إِنَّا أَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَاءَنَا فَأَضَلُّونَا السَّبِيلَا﴾

[احزاب: ٦۷]

***ترجمه:*** *او دوی وایي چې اې زموږ ربه! موږ له خپلو مشرانو او رهبرانو څخه پیروي کوله او موږ یې لار ورکې کړلو.*

په اصل کې، د دغو احمقو چارواکو پیروي په دنیا کې د لار ورکې او په اخرت کې د سخت عذاب لامل گرځي. دوی هغه چارواکي دي چې یوازې دروغ وایي، خیانت کوي او خلک لار ورکي کوي او د دوی په اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

**«أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ لِكَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ: أَعَاذَكَ اللَّهُ مِنْ إِمَارَةِ السُّفَهَاءِ. قَالَ: وَمَا إِمَارَةُ السُّفَهَاءِ؟ قَالَ: أُمَرَاءُ يَكُونُونَ بَعْدِي لَا يَقْتَدُونَ بِهَدْيِي وَلَا يَسْتَنُّونَ بِسُنَّتِي، فَمَنْ صَدَّقَهُمْ بِكَذِبِهِمْ وَأَعَانَهُمْ عَلَى ظُلْمِهِمْ فَأُولَئِكَ لَيْسُوا مِنِّي وَلَسْتُ مِنْهُمْ وَلَا يَرِدُوا عَلَيَّ حَوْضِي، وَمَنْ لَمْ يُصَدِّقْهُمْ بِكَذِبِهِمْ وَلَمْ يُعِنْهُمْ عَلَى ظُلْمِهِمْ فَأُولَئِكَ مِنِّي وَأَنَا مِنْهُمْ وَسَيَرِدُوا عَلَيَّ حَوْضِي.»**

(رواه احمد)

***ترجمه:*** *رسول الله صلی الله علیه وسلم کعب بن عجزه ته وویل: الله سبحانه و تعالی ته له احمقو چارواکو څخه پناه وړم، کعب ورته وویل یې چې دا احمق چارواکي څوک دي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمايل: له ما وروسته به داسې چارواکي راشي چې زما له سنتو به پیروي نه کوي او زما په لارښوونو پسې به اقتدا نه کوي. هغه کسان چې د دوی دروغ تصدیقوي او له دوی سره په ظلم کې مرسته کو چې به کعب بن عجزه فرمودند: پناه می‌برم به الله(سبحانه و تعالی) برای شما از امارت امیران بدبخت و ظالم؛ کعب فرمود: امارت امیران بدبخت چیست؟ رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمودند: امیرانی پس از من خواهند آمد که از سنت من پیروی نمی‌کنند. کسانی‌که دروغ‌های آن‌ها را تصدیق می‌کنند و آن‌ها را در ظلم شان یاری می‌کنند از من نیستند و من از آن‌ها نیستم، و مرا در حوض کوثر در بهشت ملاقات نخواهند کرد. و کسانی‌که دروغ‌های آن‌ها را تصدیق نمی‌کنند و آن‌ها را در ظلم شان یاری نمی‌کنند آن‌ها از من اند و من از آن‌ها و در حوض کوثر در بهشت باهم ملاقات خواهیم کرد.*

فلهذا، ای مسلمانان! به خاطر از میان برداشتن حاکمیت باطل حکام امروزی و تأسیس دولت اسلامی(خلافت) بپاخیزید تا باشد که سعادت دنیا و آخرت را به دست آورید. الله سبحانه و تعالی می‌فرماید:

**﴿وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ بِنَصْرِ اللَّهِ ۚ يَنصُرُ مَن يَشَاءُ ۖ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ﴾**

[روم: ۵-۴]

***ترجمه:*** *و در آن روز، مؤمنان(بخاطر پیروزی دیگری) خوشحال خواهند شد. به سبب یاری الله(سبحانه و تعالی)؛ و او هر کی را بخواهد یاری می‌دهد؛ و او صاحب قدرت و رحیم است!*

**حزب التحریر**

**۱۹ ربیع الاول ۱۴۳۹هـ.ق**

**۷ دسمبر ۲۰۱۷م**